

# شتمن سړی او بزګر

په پخوا زمانو کې، ډېر لیرې د یوې لویې او آرامه دښتې په منځ کې یو کوچنی عربي ښار و. د دې ښار په منځ کې یو بازارو- یو لوی مارکیټ، چې خلک به په کې د سودا اخیستلو لپاره راټولېدل. دې بازار په زرګونو تنګ سرکونه او کوڅې درلودلې، چې په هره کوڅه کې په زرګونو رنګارنګ دوکانونه وو، چې د ځمکې او آسمان تر منځ په کې هر څه پلورل کېدل.

For lenge lenge siden, langt langt borte, midt i en stor og stille ørken, var det en liten arabisk by. Midt i byen var det en basar – en stor markedsplass der folk samlet seg for å handle. Basaren hadde tusenvis av trange gater og smug. I hvert eneste smug og hvert eneste hjørne var det tusenvis av fargerike butikker der man kunne kjøpe alt mellom himmel og jord.



دلته د خلکو په منځ کې یو شتمن سړی و، چې یوه ورځ په چکر راوتلی و. دې سړي، ښکلي او ګران بیه کالي اغوستني وو، د وربښمو چینايي چپنه، د پارس د سرو زرو کړۍ، او د الماسو هندوستانۍ ګوته. شتمن سړي به په لاره لکه د طاوس په شان په غرور او نېغه (راوسیتلې) سینه په داسې حال کې مزل کاوه، چې چپنه یې په ځان پسې پر ځمکه راکشوله.

یو چا غږ کړ، چې «پام کوه، پام کوه!». ناڅاپه د شتمن سړي پام شو،چې یو غریب بزګر یې په چټکې سره خواته راروان دی. بزګر خیرنې او شکېدلې جامې اغوستې وې او د سون د لرګیو یو لوی او دروند ګېډی یې پر شا و. بزګر ملا کړوپه کړې وه او خپلې مخې ته یې څوک نشو لیدلای. نو، د دې لپاره چې له چا سره ټکر ونکړي، غږ به یې کاوه، چې: «پام کوه! پام کوه!». بزګر ته له شتمن سړي پرته نورو ټولو خلکو لاره ورکړه.

شتمن سړي له ځان سره فکر وکړ، چې «ولې یو غیریب بزګر ته، چې شکېدلي کالي یې اغوستي دي، لاره ورکړم؟» او په لاره کې ودرېد.

Her inne i folkemengden var det en rik mann som gikk tur. Han hadde på seg fine og dyre klær; en lang silkekåpe fra Kina, gullkjede fra Persia, og diamantring fra India. Den rike mannen gikk som en påfugl, med nesa høyt i været og hevet bryst, mens han lot den lange kåpen dras langs bakken.

«Pass deg, pass deg!» Plutselig så mannen en fattig bonde som kom raskt mot han. Bonden hadde på seg møkkete og slitte klær. På ryggen bar han en stor og tung bunt med fyringsved. Bonden gikk med bøyd rygg og kunne ikke se folk foran seg. Så for å ikke komme bort i noen ropte han: «Pass deg, pass deg!» Alle folk flyttet seg, bortsett fra den rike mannen. «Hvorfor skal jeg flytte meg for en fattig bonde med ødelagte klær?» tenkte rikmannen og stod i veien.



ناڅاپه بزګر له شتمن سړي سره ټکر وکړ؛ شتمن سړی ولوېد او د لرګيو ګېډی پرې دپاسه وروغورځېد. شتمن سړی په خټو ککړ شو او ښکلي کالي يې خراب شول.

Plutselig krasjet bonden med den rike mannen. Rikmannen falt ned og ved-bunten falt over ham. Han ble dynket ned i gjørme og de fine klærne hans ble ødelagt.



شتمن سړي چيغه کړه او په قهر سره يې بزګر ته وويل: «د دې ځواب بايد ورکړې!» «له ما سره راځه!» شتمن سړي بزګر له ګريوانه ونيوه او له ځان سره يې د ښار قاضي ته راوست.

Dette skal du betale for!» skrek den rike mannen sint. «Bli med meg!» Rikmannen tok tak i bondens krage og dro ham med seg til byens dommer.



په محکمه کې شتمن سړي وويل، چې په بازار کې يې چکر واهه او بزګر يې پر لور راغي، پرته له دې چې هغه ته خبر ورکړي. شتمن سړي وويل، «بزګز زما کالي په قصد سره خراب کړل».

قاضي وپوښتل، «بزګر ولې داسې وکړل؟»

شتمن سړي ځواب ورکړ، چې «بزګر له ما سره کينه (حسادت) وکړ، ځکه چې زما کالي د هغې له کاليو ښکلي دي»

وروسته قاضي له بزګر څخه وپوښتل: «ولې دې د شتمن سړي کالي خراب کړل؟»

بزګر لکه د مږې په شان غلی ولاړ و او يوه کلمه يې هم و نه ويله. قاضي بيا وويل، «وا دې نه اورېدل؟ ولې دې د شتمن سړي کالي خراب کړل؟»
بزګر بيا هم څه و نه ويل.
قاضي په غوسه په لوړ غږ وويل، «زه يې بيا تکراروم: «ولې دې د شتمن سړي کالي خراب کړل؟»
خو بيا هم د بزګر له خولې يوه کلمه راونه وتله.

I retten fortalte den rike mannen at han gikk rundt på basaren og hørte ingen ting da bonden kom mot han, fordi bonden ikke varslet han. «Bonden ødela mine klær med vilje,» sa den rike mannen. «Hvorfor skulle bonden gjøre noe slikt?» spurte dommeren. «Fordi bonden var sjalu på meg som har finere klær enn ham,» svarte rikmannen.

Deretter spurte dommeren bonden: «Hvorfor ødela du klærne til den rike mannen?» Bonden stod musestille og sa ikke ett eneste ord. «Hørte du ikke? Hvorfor ødela du klærne til den rike mannen?» gjentok dommeren. Bonden sa fortsatt ingenting. «Jeg gjentar: hvorfor ødela du klærne til den rike mannen?» sa dommeren. Men fortsatt kom det ikke et eneste pip fra bonden.



قاضي شتمن سړي ته مخ ورواړاوه او په غوسه يې ورته وويل: «نه وينې چې بزګر ګونګ دی؟ څرنګه له يو داسې چا څخه، چې خبرې نشي کولای، د دې غوښتنه کوې چې خبر درکړي؟»

شتمن سړي بې له دې چې پخپله خبره فکر وکړي وويل: «هو، هغه خبرې کولای شي! زه پوهېږم چې هغه خبرې کولای شي! ما د هغه خبرې واورېدې؛ هغه څو ځلې غږ کړ چې: پام کوه! پام کوه!»

Da sa dommeren til den rike mannen: «Ser du ikke at bonden er stum? Hvordan kan du kreve fra en som ikke kan snakke at han skal varsle deg?» sa dommeren. «Åh jo!!! Jo! Han kan snakke!! Jeg vet at han kan snakke!! Jeg hørte ham. Han ropte høyt: Pass deg!! Pass deg!! Mange ganger!», svarte den rike mannen uten å tenke.



قاضي شتمن سړي ته په دروغو ويلو جزا ورکړه او هغه يې محکوم کړ، چې بزګر ته ۱۰۰۰ (زر) د سرو زرو سکې ورکړي او د دې تر څنګ په بازار کې د ټولو خلکو په مخ کې ودريږي او داسې غږ کړي:

*زه په ځان غره وم او نه مې غوښتل چې له نورو سره يې ووېشم*

*ځکه په ختو کې ولوېدم*

*او ګران بيه*

*کالي مې خراب شول*

Dommeren straffet den rike mannen for å ha løyet. Han måtte betale 1000 gullmynter til bonden og i tillegg måtte han stå på torget foran alle folk på basaren og rope: «Jeg var sjølgod og ville ikke dele. Derfor falt jeg ned i søla og ødela min fine og kostbare klede». Og snipp snapp snute, så var eventyret ute.







Illustratør: Svetlana Voronkova

Se flere fortellinger på morsmal.no